آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۹/۱۰

# زموږ کلی شپون نه لري




آهای د سوي کلي خلکو!

غږ مي اورئ!

زموږ کلی افغانستان نوميږي، ښي دري، ښه ښارونه او ښه غرونه يي لرل. دغه جنتي کلي يو شپون هم درلود، د دي کلي شپون:**«و، نه و، يو شپون و»** نوميده، خدای شته، ښه شپني يي هم کوله.

زموږ د کلي شپون، عجيب شپون و؛ ده د شپنو د ډانګ پر ځای يو لوی زرين قلم په جيب کي ګرځاوه. په دي ډانګ ډوله قلم به يي له لرې د خپلي بي ګناه او سپيڅلي رمي لاربښونه کوله.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولـئ

لکه چي په دې زمانه کې هر څه سرچپه دي، د دې شپانه په کارونو کې هم ډېر څه بدل وو. بدلون يې په دې کې و چي دی له خپل لوی زرين قلم سره، په خپلې رمې پسې نه و روان، دی ځای پر ځای ناست و، رمه ده ته راټله او ور نه تاو به وه. ښايي د لسان الغيب د وينا دا پاليسي به وه، چي ويلي يې وو:

آب و خـور لـکه آسيا په ځـای را رسي
په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار

دې شپانه ډېرځلي عجيبي پخې خبرې هم کولې. يوه ورځ چي په کلي کې ډېر اړ و دوړ و او کليوال له هر لوري نليدل، ده په خواشينی سره و ويل:

«دا پر کليوالو باندې څه حال دی، پاچا ته څوک د شکايت له پاره هم نه شي ورتلای. پخوا يې له ما سره کلکه انډيوالي وه، داسي انډيوالي چي کلي په کلي به را سره گرځيده؛ له کله نه چي پاچا شو، نو له ځان نه يې د غوښنو ديوالونه را تاو کړل، نور خو پريږده، آن زه هم نه شم ورتلای، نو بهبود به څنګه راشي؟»

د شپانه او رمې ښه سره دوستي وه، چي نا څاپه پر کلي باندې د سوزونکي او مرګوني اور سيلاو را برابر شو، هر څه تالا ترغه شول. رمه څه په اور کې کباب شوه او څه وتريده او په هر لوري خپره شوه.

د شپانه تن بدن ټپي، ټپي و، نه پوهيده څه وکړي، بې رمې يې ګوزران نه کيده. چي هيڅ يې له لاسه و نه شول، له خپل ټپي بدن او خواشيني ارواح سره يې په بل لوري مخه کړه، په کوم لرې کلي کې يې واړول او...

هلته هم شپانه خپل زرين قلم چلاوه، خو د وخت په تيريدو سره د پردي کلي بادونو او د خپل کلي غمونو لاسونه سره يو کړل او شپون يې داسي  وسولاوه چي له پښو يې وغورزاوه، نو ځکه په خواشينی سره بايد و وايو:

...او نور زموږ کلی شپون نه لري.

دا دی اوس د افغانستان، سيمي او نړی فرهنګي ـ ادبي کړيو شپون له لاسه ورکړ، خو وياړ دا دی چي شپانه په ډېرې ميني او زړه سوي سره خپل حق ادا کړی او ښه پوره يې ادا کړی دی.

ښايسته بډای ميراث يې ټولو ته پريښود، د ميراث داسي خزانه ورنه پاتي شوه چي، هر څوک، هر څومره غواړي، پرته له دعوا او پرته له شور و ځوږ نه، هغه تر لاسه کولای شي.

ارواح دې يې ښاده

او ياد دې تل پاتي وي!



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ